# د PGW د پیرودونکي د مسوولیت پروګرام (CRP)

## غوښتنلیک / بیا تصدیق فورمه

## د PGW د پیرودونکي د مسوولیت پروګرام (CRP) څه شی دی؟

CRP د پیرودونکو د مرستي پروګرام دی چي کولای شي د کم عاید لرونکو پیرودونکو سره مرسته وکړي تر څو خپل د PGW بلونه ادا کړي او خپل د ګاز خدمت جاري وساتي. د CRP پیرودونکي یوه تخفیف لرونکې اندازه تادیه کوي چي یا د هغوی د کورنی د ناخالص عاید یا د کورنی د اندازې پر بنسټ دی یا د بل د اوسط پر بنسټ دی، هر یو چې کم وي. هغه پیرودونکي چي خپل ټول د تادیي وړ مبلغ تادیه کړي، د خپل پخواني پور ښښنه به ترلاسه کړي.

## د غوښتنلیک بشپړولو لپاره لارښووني

1. د پیرودونکي مسؤلیتونه او مهمه خبرتیا ولولئ.
2. د کورني د معلوماتو په برخه کې، د خپل ځان په شمول، د کورنی د ټولو غړو نومونه ولیکئ او د هر شخص د ټولنیز خوندیتوب شمیره او د زیږون نېټه هم شامله کړئ.
   - أ. د کورنی د هغو غړو لپاره چي 18 کلن یا له هغي لوی دي او عاید نلري، مهرباني وکړئ یوه لنډه بیانیه وړاندي کړئ چي د هغوی اوسنی حالت تشریح کړي (لکه: د زده کړو دوام، وزګار او د وزګارتیا مرستي مستحق نه دی).
   - ب. تاسو باید د کورنی د ټولو عایداتي سرچینو لپاره اسناد وړاندي کړئ.
     - i. د منل کېدونکو عایداتو د فورمو لیست لپاره راتلونکي پاڼه وګورئ.
   - ت. که تاسو نه غواړئ د کورنی د غړو لپاره د ټولنیز خوندیتوب شمیره وړاندي کړئ، نو باید د پېژندني یو بل ډول شمېره چمتو کړئ (لکه د موټر چلولو جواز شمېره، د پاسپورټ شمیره، یا بله پېژندپاڼه).
3. که تاسو له یوه داسي کس څخه مالي مرسته ترلاسه کوئ چي ستاسو په کور کې نه اوسیږي، نو هغه کس باید د غوښتنلیک د اضافي مرستي برخه په بشپړ ډول ډکه کړي او لاسلیک يې کړي.
4. د نورې مرستي برخه بشپړه کړئ.
   - أ. که تاسو د خوراکي توکو کوپنونه/ SNAP ګټي یا د استوګني مالي مرسته ترلاسه کوئ، نو د "هو" تر څنګ په بکس کې د چک نښه ولګوئ او د هرې میاشتي ترلاسه شوی مقدار ولیکئ. د دې مرستي اسناد ممکن د PGW له لوري د اړتیا په صورت کي وغوښتل شي.
   - ب. که تاسو د خوراکي توکو کوپنونه/ SNAP ګټي یا د استوګني مالي مرسته نه ترلاسه کوئ، نو د **"نه"** تر څنګ په بکس کې د چک نښه ولګوئ
5. **<u>غوښتنلیک لاسلیک کړئ او نېټه پرې ولیکئ.</u>**

## د پیرودونکي مسوولیتونه

1. زه پوهېږم چي د پنسلوانیا عامه خدماتو کمیسیون (PUC) له پیرودونکو څخه غواړي چي د عاید د وړتیا شرایط پوره کړي ترڅو د CRP لپاره ثبت شي.
2. زه پوهېږم چي زه به د 36 میاشتو په موده کې د خپل پخواني پور میاشتنی بخښنه ترلاسه کړم، خو یوازې په هغو میاشتو کې چي زه خپل ټول د تادیې وړ مبلغ ادا کړم.
3. زه پوهېږم که چیرې زه یوه تادیه له لاسه ورکړم، نو زه به د تخلف په حالت کې شم، د راټولولو پروسه به پیل شي او زما خدمت ممکن قطع شي.
4. زه موافق یم چي هر دوه کاله وروسته د CRP غوښتنلیک د کورنی له تازه معلوماتو او عاید له سند سره وسپارم ترڅو بیا تصدیق ترسره شي.
5. زه موافق یم چي د خپلي کورنی د غړو شمېر او عاید کي ټول بدلونونه راپور کړم، حتی که دا بدلونونه د اړتیا وړ تصدیق له نېټي څخه مخکې رامنځته شوي وي.
6. زه موافق یم چي د PGW د انرژۍ د موثریت پروګرامونو وړیا خدمات، که ما ته وړاندې شي، ومنم.
7. زه هوکړه کوم چي په کافي اندازه به هڅه کوم تر څو انرژي وسپموم.
8. زه موافق یم که د څېړنو په پایله کې غلط معلومات وموندل شي، نو زه ممکن د درغلی له امله له عدلي تعقیب سره مخ شم. سربېره پردې، زه موافق یم که چیرې زه د خدمت له کومو یادو شویو شرایطو سره سم عمل ونه کړم، نو PGW کولای شي ما د پیرودونکي د مسوولیت له پروګرام څخه لرې کړي او د هر اړوند لګښت لپاره ما ته بېرته بل را واستوي.
9. د دې سند په لاسلیک کولو سره، زه تاییدوم چي بشپړ او سم معلومات مې ورکړي دي، دا خبرتیا مو لوستلې او درک کړې ده او د پورته ذکر شویو د پیرودونکي مسؤلیتونو سره موافق یم.

بشپړ شوی غوښتنلیک او د اړتیا وړ اسنادو کاپي ګاني لاندې پتې ته واستوئ:

**Philadelphia Gas Works**
Customer Responsibility Program
P.O. Box 3529
Philadelphia, PA 19122-0529

ستاسو بشپړ شوی غوښتنلیک همدارنګه دې شمېرې ته استول کېدای شي:

215-398-3361

د آنلاین نوم لیکني لپاره سکین کړئ

یا دې پتې ته مراجعه وکړئ:
PGWorks.com/CRP

# د PGW د پیرودونکي د مسوولیت پروګرام (CRP)
## غوښتنلیک / بیا تصدیق فورمه

### د عاید د اسنادو منل کیدونکي ډولونه چې باید وړاندې شي *(یوازې هغه ځای کې چیرې چې تطبیق کیږي)*

1. اوسنی د تادیې پاڼې (چې په تېرو 30 ورځو کې یا په تېرو 12 میاشتو کې تر لاسه شوې دي).
2. تولنیز خوندیتوب: تصدیق پاڼه، د بانک بیان یا د مالیې بیانیه.
3. تقاعد: د تادیې پاڼې یا بانکي بیانونه.
4. د DHS تفصیلي پاڼه یا د Compass چاپ شوی راپور چې د ماشومانو یا نورو د کورنۍ غړو لپاره د نغدي ګټو ښودنه کوي.
5. د کار او صنعت وزارت تفصیلي پاڼه چې د بې روزګارۍ ګټې ښیي.
6. د لنډمهاله او اوږدمهاله معلولیت د تادیې پاڼې.
7. که تاسو آزاد شغل لرئ: د بانک بیانیه چې د پیسو د زیاتولو یا د تېر کال د مالیې پاڼې پکې وي.
8. د محکمې حکم چې د ماشوم لپاره د ماشوم د ملاتړ ترلاسه کولو یا د نفقې د حکم په اړه وي.
9. د رضاعې پالنې د ملاتړ تادیات.
10. که تاسو د کرایې عاید کاروئ: د تیر کال د فدرالي مالیې پاڼې وړاندې کړئ چې د کرایې عاید ښیې یا د خپلې کرایې تړون یوه کاپي وړاندې کړئ او د کرایې د عاید شواهد وښایئ، لکه د بانک بیانیې یا د کرایې رسیدونه، او له دې سره یوځای:
    - أ. ستاسو د کرایه شوې ملکیت لپاره وروستی د کرایې بیانیه.
    - ب. د قانوني سند سره د جایداد د ملکیت ثبوت.

**د حساب مالک:**

بشپړ نوم: ______ د PGW د حساب شمېره: ______

پته: ______ ښار: ______ ایالت: ______

زیپ: ______ تلیفون: ______

**د کورنۍ معلومات:** (په مهربانۍ سره ټول ماشومان او لویان چې ستاسو په کور کې اوسېږي، ستاسو په شمول ذکر کړئ)

**ممکنه د هویت شمېرې:** په مهربانۍ سره له لاندې شمېرو څخه یوه چې په 4م کالم کې دي د **ID د ډول لپاره وکاروئ.**

**(1)** د ټولنیز خوندیتوب شمېره **(2)** د موټر چلونې جواز **(3)** د زده کوونکي د هویت کارت **(4)** د پاسپورټ شمېره **(5)** د ویزې شمېره

**(6)** د فرد د مالیې پېژندنې شمېره **(7)** نور:

| وروستي نوم | لومړی نوم | اړیکه | د ID ډول | د ID شمېره* | د زېږېدو نېټه | تر 18 کلنۍ ښکته (هو/نه) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | (پخپله) | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |

(که تاسو غواړئ د کورنۍ نور غړي اضافه کړئ، په مهربانۍ سره یوه جلا پاڼه ضمیمه کړئ)

**د درغلۍ پر وړاندې خوندي کولو لپاره، پېژندنې ته اړتیا ده. لویان او غیرلویان باید د هویت د کارت یو له پورته ښو څخه چمتو کړي.*

**په مهربانۍ سره په یاد ولرئ: د دې پاڼې په بل مخ کې نورې پوښتنې هم شته 🡐**

# د PGW د پیرودونکي د مسوولیت پروګرام (CRP)
# غوښتنلیک / بیا تصدیق فورمه

**اضافي مرسته:**

که چیرته داسي کس چي ستاسو په کور کي نه اوسیږي، تاسو یا ستاسو په کور کي کوم بل چا ته مالي ملاتړ چمتو کوي، هغوی باید لاندي برخه بشپړه کړي او په اړوند ځای کي لاسلیک وکړي. PGW کېدای شي د هغو معلوماتو تصدیق وغواړي چي په دي برخه کي بیان شوي دي.

د هغه شخص نوم چي مرسته چمتو کوي: ______ ټلیفون: ______

پته: ______

ښار : ______ ایالت: ______ زیپ ______

زه تاییدوم چي زه هره میاشت $______ نغد مرسته دغه شخص ته چمتو کوم
زه د پورته ذکر شوي CRP غوښتونکي یم او زه پوهیږم چي PGW کولای شي د دي معلوماتو د تایید غوښتنه وکړي.

______
(د هغه شخص لاسلیک چي مرسته چمتو کوي)

**صفر عاید:**

**مهم:** که نه تاسو، نه ستاسو په کور کي هیڅ یو په تیرو 30 ورځو کي هیڅ پول عاید، مالي مرسته، د ماشوم ملاتړ، یا بل پول نغدي مرسته ترلاسه کړي نه وي، پرته له SNAP ګټو، د استوګني مالي مرسته، یا د فیلادلفیا د مسکن اداري د خدماتو تادیه، نو لطفاً لاندي تشریح کړئ چي څنګه ستاسو کور هره میاشت د خوړو، استوګني، او خدماتو بنسټیزي اړتیاوي پوره کوي.

| خواړه | استوګنځی | ښاري خدمات |
|---|---|---|
| | | |

**نوره مرسته:**

که چیرته ستاسو په کور کي کوم څوک له لاندي مرستو څخه کومه یوه نه ترلاسه کوي، لاندي بکسونه په نښه کړئ. اسناد را واستوئ چي ښيي تاسو د هر یوه لپاره څومره مرسته ترلاسه کوئ. PGW د مرستي دغه ډولونه د عاید په توګه په پام کي نه نیسي، کله چي پریکړه کوي چي ایا تاسو د CRP لپاره مستحق یاست یا نه. PGW دي معلوماتو ته اړتیا لري تر څو تعیین کړي چي ایا تاسو د خپلو لومړنیو اړتیاوو لپاره کافي پیسي لرئ یا نه.

☐ د تکمیلي تغذیي د مرستي پروګرام (SNAP) — که مو چیک کړي وي، په میاشت کي څومره؟ $______

☐ د استوګنځي مالي مرسته (د بېلګي په توګه د PHA استوګنځی، ووچر) — که مو چیک کړي وي، په میاشت کي څومره؟ $______

**لاسلیک:** (تر هغي چي غوښتنلیک د PGW د پیرودونکي له لوري لاسلیک نشي، هغه بشپړه نه ګڼل کیږي)

______ ______ ______
**روښانه نوم** **لاسلیک** **نېټه**